# دَ پروفیسر افضل رضا دَ تذکره نګارۍ فن، تحقیقي او تنقیدي جاج

**Muhammad Imtiaz Khan***

**ABSTRACT:**

*Prof Afzal Raza is a prominent figure in Pashto language and literature. Beside his other research and creative works he has contributed a lot to the Pashto literature in the form of memoirs and in this way has recorded the lives and works of many well known and forgotten poets and poetesses. Besides this his Ph.D thesis was also a record of literary memoirs of Pashto with chronology but unluckily he has neither awarded a Phd degree nor was his thesis published. The author of this article has given a review of not only his memoirs but also of his Ph.D thesis which is a new addition for the researchers.*

دَ پروفیسر افضل رضا صیب دَ تذکره نګارۍ په فن تحقیقي او تنقیدي بحث کولو نه اګاهو په لفظ "تذکره" باندې لږ شان بحث کول ضروري دي۔

تذکره دَ عربۍ ژبې ټکے دے چې معنې ئې څه په دې ډول دي:
(۱) ذکر یا داشت (۲) بیان (۳) سوانح عمري (۴) هغه کتاب چې د چاحال پکښې لیکلے شوے وي

په بنیادي توګه تذکره په دوه ډوله ده یعني

* Ph.D Research Scholar Pashto Acadmey, University of Peshawar

(۱) دَ موضوع په لحاظ (۲) دَ ترتيب په لحاظ

دَ موضوع په لحاظ تذکره څه په دې ډول جوړيږي:

(۱) د اولياؤ او بزرګانو تذکرې
(۲) د باچاهانو او قامي مشرانو تذکرې
(۳) د عالمانو، پوهانو اور فلسفيانو تذکرې
(۴) د شاعرانو او اديبانو په حقله ليکلے شوې تذکرې (۱)

دَ ترتيب په لحاظ ادبي تذکرې په مختلف انداز او اسلوب جوړيد ے شي۔ دَ مثال په طور مونږه دا قسمه انداز خپلولے شو۔

۱۔ دَ زړو شاعرانو تذکرې: دا زاړهٔ شاعران که د هرې سيمې سره تعلق لري خو په دې تذکرو کښې د دې په ژوند او فن باندې زړه پورې انداز سره رڼا اچولے شي۔ ددې قسمه تذکرو مثال پټه خزانه، پښتانهٔ شعرا، نومياوالے شاعران، ادبي ستوري، پټ ستوري اور پياوړي شاعران وغيره۔

۲۔ بعض ادبي تذکرې داسې هم شته چې هغه د خاص سيمو پورې محدود ساتل شوي وي لکه د بنوں ادب ، پېښوري ستوري اور د خيبر ادب وغيره وغيره۔

۳۔ هغه تذکرې چې په هغې کښې د جديد دور شاعران اوليکوال معرفي شوي وي۔

۴۔ هغه تذکرې چې هغه صرف شاعرۍ پورې محدودې نه وي بلکه د پښتو ادب په نورو ادبي اصنافو لکه افسانه،ډرامه، ناول، تحقيقي مقالې، طنز و مزاح، رپورتاژ، تنقيد ، سفرنامې وغيره ليکونکو اديبانو ذکر هم شوے وي۔

۵۔ هغه تذکرې چې صرف د مخصوص غونډې مخصوص ملګري، معرفي کوي يعني ملګري شاعران ارباب لنډۍ پېښور۔

۶۔ هغه تذکرې چې په هغې کښې اولسي شاعران متعارف کړے شوي وي لکه همېش ژوند ، د پښتو ګلونه او يو آواز۔

۷۔ هغه تذکرې چې صرف د ميرمنو د پاره مخصوص ليکلے شوي دي لکه پښتنې ليکوالې او شاعرانې او پښتو ادب کښې د ميرمنو برخه۔

۸۔ هغه تذکرې چې د مسافر شاعرانو ذکر د پاره ترتيب شوي وي لکه کاروان، مسافره مينه، درياب او بحرين۔

۹۔ هغه تذکرې چې د شاعرانو او اديبانو په تصويرونو او نومونو مشتمل وي نور څه خاص سوانح عمري نه لري لکه بيا کډې بارېږي، او ستا به خوښه شي که نه۔

۱۰۔ هغه تذکرې چې په يو ليکوال او شاعر مشتمله وي لکه زه او حمزه، اجمل خټک ژوند او فن۔

۱۱۔ بعضې تذکرې په منظوم ډول مرتب شوي وي لکه دسيال کاکړ منظومه تذکره، دغه رنګ ليکوال نه مري او د حاجي پردل خټک منظومه تذکره ، دلواغر ګلونه(۲)

تردې ځايه پورې مونږه د تذکرې د مختلفو قسمونو نه خبر شو راځۍ چې اوس د تذکرې د فن په حواله څو خبرې وکړو چې د تذکرې فن څه څيز دے، هغې نه وروستو به مونږ ددې جوګه شو چې د دَ پروفيسر افضل رضا صېب په تذکره نګارۍ باندې فني، علمي او ښه په زړه پورې بحث اوکړو۔

## َتذکره نګارۍ فن:

د تذکره نګارۍ فن د ادب، تاريخ او ادبي څېړونونه ځان ته بيل يو خاص فن دے او يو ښه تذکره نګار د پاره ضروري ده چې هغه د چا په حقله ليکي چې د هغه شاعر يا ليکوال نوم، تخلص، لقب، قلمي يا مستعار نوم، لنډيا مخفف نه خبر وي۔د شاعر يا ليکوال شجره نسب ورته معلوم وي۔شاعر

یا لیکوال ځائے، کلے، علاقې په حقله هم پوره معلومات لري۔ د تذکره نګار د پاره دا ډیر ضروري دي چې د چا تذکره لیکي چې د هغه د ژوند په حالاتو، د هغه د ذېږون نیټه، د استوګنې ځائے، علمي سندونه، د معاش ذریعې، کار کسب، منصوبه وغیره ورته ښه معلوم وي یا ئې معلوم کړي۔ دې سره سره چې تذکره نګار ته دا هم معلومه وي چې د متعلقه لیکوال یا شاعر استاذان، شاګردان، معاصر او قلمي ملګري څوک څوک دي۔ دغه رنګ د متعلقه لیکوال مخالفین څوک دي، د اختلاف اسباب څه وو۔ په داسې موقع د مخالفینو احساسات را نقل کول دتذکره نګارۍ د پاره ډیر ضروري څیز دے۔ د یو ښه تذکره نګار د پاره دا ډیر ضروري دي چې د متعلقه لیکوال ادبي مکتب، سبک سیاسي نظریه او عقیده باندې هم رڼا واچوي۔ پکار دا ده چې تذکره نګار په خپله لیکوال یا شاعر سره خبرې اترې وکړي او ټول معلومات ترې په خپله واخلي۔

تذکره نګار له دا هم ډیر ضروري دي چې په یو شاعر یا لیکوال د کوم غټه شخصیت اثرات دي او کوم طرف ته ئې رجحان او میلان دے۔ د لیکوال تخلیقي، تحقیقي او تنقیدي لیکونه څیړل دي چې هغه د کومې درجې دي او اوسه پورې ادبي میدان ته څومره فن پاري وړاندې کړي دي۔ په نورو تذکرو کښې ئې ذکر شته او که نه او که شته نو په کوم ډول ذکر شوے دے۔ دا کتل هم ضروري دي چې په منظوم ادب ډېر خور دے او که په منثور۔ د یو شاعر یا لیکوال د قلم روانۍ ته کتل پکار دي چې په کوم اړخ ئې په قلم کښې رواني ډیره ده۔ تذکره نګار له د تذکرې په وخت دا کتل هم ضروري دي چې د متعلقه شخصیت باره کښې په نورو تذکرو کښې څه غلطي خو مخې ته نه ده راغلې که چرې داسې وي نو علمي انداز سره د هغې سمونه پکار ده۔ که چرې د دۀ متعلق مواد په تذکرو کښې نیمګړي راغلي وي باید تفصیلي ذکرئې کړي۔

د لیکوال یا شاعر ته په فن پارو ورکړو شوو انعامونو، لقبونو او سندونو ذکر هم په تذکره کښې ضروري وي۔ دې سره سره د یو شاعر د ادبي

غونډو محفلونو او سیمینارونو ذکر هم پکار دے چې دوي پکښې خپل شرکت یقیني کړے وي۔ د پښتونخوا د مختلفو سیمو د زړو یا جدیدو شاعرانو په حقله تذکره لیکونکي ته دا هم پکار ده چې د هغو سیمو د تاریخ او جغرافیې نه خبر وي۔ او دغه رنګ د پښتو لهجو، اصطلاحاتو، روزمره محاورو او لغاتو نه واقف وي۔

که چرې یو تذکره نګار په جدید دور کښې تذکره لیکي نوباید چې ددې تذکرې کړۀ وړۀ په مکمل ډول د زړې تذکرې نه په بدل انداز او اسلوب وي۔ د جدیدو شاعرانو او لیکوالو تذکره د یوې مخصوصې سیمې، یو مخصوص وخت ، یو مخصوص کول، یوې مخصوصې معاشرې سره تعلق لري چې د هغې په رڼا کښې د معاصر و شاعرانو او لیکوالو عکاسي کوي او د دې ورته د یو واضحه مقصد په طور وړاندې وي چې هغه راتلونکي او موجوده نسل د پاره د شاعرانو او لیکوالو د ژوند حالات اور ادبي خدمات او تخلیقات خوندي کوي ځکه چې د نن لیکوال یا شاعر تحلیقي تجزئې او د معاشرې عکاسي صبا ته سپاري۔

په یوه ښه تذکره کښې د شاعر یا لیکوال پیژندګلو د هغه د ادبي مسلک، سبک او اسلوب د پاره د مقدمې حیثیت لري چې تذکره نګار ئې په رڼا کښې د شاعر یا لیکوال په ادبي مسلک، سبک او اسلوبِ بیان بحث وکړي۔ په تذکره داسې نوم، داسې عنوان یا داسې سر خط ایخول پکار دي چې هغه زړه راښکونکے وي او پکښې تجسس موجود وي چې لوستونکے د ځان سره تر آخیره مشغول اوساتي۔ (۳)

## د پروفېسر افضل رضا دَ تذکره نګارۍ فن

د پروفېسر افضل رضا صېب د تذکره نګارۍ فن باندې په مکمل ډول عبور حاصل وو او هم دا وجه وه چې د دوي ټول میلان او رجحان د تذکرې په لور وو۔ په دې باب کښې دوي ډېر خور ور کار کړے دے او په صحیح معنو کښې ئې د پښتو ادب او ژبې خدمت کړے دے او ډېر څه ئې ورکړي دي۔ د پروفېسر

افضل رضا صېب د تذکرې د فن په حواله چې څومره لیک د چاپ مرحلې نه تیر شوے دے یا ناچاپ شکل کښې موجود دے هغه څه په دې ډول دے۔

۱۔ پټ ستوري ۲۔پنځه شمعې ۳۔دپښتو غزل
۴۔کاروان د آزادۍ ۵۔ څلور امامان
۶۔اردو کے قدیم پشتون شعرا
۷۔د پښتو ادبي تذکرې او تاریخونه (پي ایچ ډي مقاله ناچاپ)

۱۔ پټ ستوري:

پټ ستوري د پروفېسر افضل رضا صېب داسې علمي او فني تذکره ده چې پښتو ادب پرې په صحیح معنو کښې فخر او ویاړ کولے شي په دې تذکره کښې تقریباً سل شاعران متعارف کړے شوي دي او بعضې شاعران پکښې په صحیح معنو کښې پټ ستوري وو او پروفېسر افضل رضا صېب دغه پټ ستوري زمونږ مخې ته راوستل اوس مونږه ټول ورته ګورو او ددې ستورو رڼا نه خوند او مزه اخلو۔ او دَ راتلونکي دور څېړنګاران به دَ دغه ستورو په رڼا ځان ته نوي نوي منزلونه او پړاونه په ګوته کوي۔ پروفېسر نواز طائر صېب ددې کتاب په سریزه کښې لیکي:

> دتحقیق او تذکرې له مخه دا کتاب خپل خاص اهمیت ځکه لري چې دا لکه څرنګه چې ددې مولف دې کتاب ته پټ ستوري وئیلي دي۔ د پښتو شعرو ادب د آسمان هغه ستوري دي چې یا خو تت وه او یاد دورونو په وریځو کښې پټ او ده په خپل کاوش راڅرګند کړل ـ مونږ د ښاغلي افضل رضا ددې تکل مننه کوو۔ (۴)

د پټ ستوري نومې تذکرې د اهمیت او افادیت اندازه مونږ ته د مرحوم ډاکټر پروفېسر راج ولي شاه خټک صېب دَ اقتباس نه ډېر په ښه شان سره کیږي لکه چې وائي:

د ښاغلي پروفېسر افضل رضا د پښتو ورکو او ګمنامو شاعرانو دا تذکره پټې ستوري زمونږ د ادبي ارتقا د سلسلې یوه اهمه کړۍ ده په دې مجموعه کښې چې د کومو شاعرانو ذکر شوے دے هغه که هرڅو زمونږ د ادب د آسمان ځلنده ستوري دي خو د وخت او دَ بې قدرۍ په لړو کښې داسې پټ راپټ شوي وو چې مونږ په ورکو شمېرلي وو۔ (۵)

حقیقت دا دے چې افضل رضا صېب په کوم فني او تکنیکي انداز دا پټ ستوري رابر څیره کړي دي، یقیناً چې نور تذکره نګاران ورته ګوته په خوله دي۔ په دې تذکره کښي دوي د شاعر کلام سره لږ ډېر د ژوند حالات هم ورکړي دي چې په مکمل ډول ترې هغه متعلقه شخصیت واضح کیږي او لوستونکو ته پرې د تکمیل احساس کیږي ۔ او ددې هر څه بنیادي وجه دا ده چې دوي په دې تذکره کښي د ګڼ او مستند ماخذونو نه استفاده کړي ده۔ او دغه رنګ خپل لیک ئې ګټور کړے دے۔ او هم دا وجه دا چې په دې تذکره کښي دوي د ډېرو تاریخي غلطو او تندکونو سمونه کړي ده زه خپل خیال لرم چې راتلونکے نسل په ارومرو د پروفیسر افضل رضا صېب په دي ګټوره تذکره فخر او ویاړ کوي او دا به د حوالو په حیث په خپل استعمال کښې راولي۔ مرحوم راج ولي شاه خټک صېب د تذکره نګارۍ متعلق څه ښکلې خبره کړې ده:

د ژوند او ثقافت هر اړخ د ماضي په آئینه کښې د ځان کتو محتاجه وي۔ (۶)

## ۲۔ پنځه شمعې:

پنځه شمعې د پروفېسر افضل رضا صېب یوه داسې علمي او فني تذکره ده چې ددې تذکرې هر څومره تعریف اوشي زما په خیال چې هغه به کم وي۔ ددې تذکرې نوم استعاراتي او علامتي دے او هم دا وجه ده چې د لوستونکي تجسس کښي اضافه کوي۔ پروفېسر صېب په دې تذکره کښې زمونږ د ښځینه ادب هغه پنځه هستۍ ځائے کړي دي چې یقیناً زمونږ د پښتو ادب په میدان کښې د شمعو نه کمې نه دي۔ یعني مس الفت بیګم درد ، مېرمن

زېتون بانو، فوزيه انجم خټک، پروفېسر سلمي شاهين او سيده حسينه ګل تنها، پروفېسر صېب خپله تذکره کښې د الفت بيګم درد متعلق ليکي:

> د پښتو ژبې دا مشهوره شاعره په صوابۍ تحصيل په نوي کلي کښې د ښاغلي فردوس خان کره په کال ۱۹۲۵کښې د فرورۍ په يولسمه نيټه زېږېدلي وه. د مور پلار د مرګ نه وروستو وړو وروڼو خوېندو تربيت او روزنه ور په غاړه شوه. دې د وړو وروڼو د پاره خپل ژوند وقف کړو. د الفت بيګم درد د شاعرۍ بنيادي محرک هم د هغې د مور پلار د جدائ نه هيرېدونکے غم وو. مونږ چې هر څومره د دوي ددې تذکرې تعريف وکړو هغه به کم وه ځکه چې دوي ډېر په ښکلي انداز د الفت بيګم درد بنيادي معلومات او دغه رنګ د دوي د شاعرۍ مختلف اړخونه په ګوته کړي دي چې د قدروړ او ګټور کار دے(۷)

دغه رنګ دي د زيتون بانو په افسانه، ناول، ډرامه، شاعرۍ او اداکارۍ ډير معلوماتي او زړه پورې بحث کړے دے. يقيناً چې د خپلې تذکرې لمن ئې پرې ډيره درنه او فراخه کړې ده. دې سره سرۀ دوي د ګڼو ماخذونو نه استفاده هم کړې ده او دا رنګ ئې خپله تذکره د عروج په بام اودره ولې ده(۸) چې موجوده وخت کښې ورته يقيناً د حوالې سند حاصل دے. دوي د مېرمن زيتون بانو د افسانو، ډرامو او دغه رنګ د شاعرۍ ګټوري او اعلي نمونې هم ورکړې دي چې د يو کامياب او عالم تذکره نګار ټول اوصاف پوره کوي. او په دې بنياد ورته مونږ د فن او تکنيک اعلي تذکره وئيلے شو.

که په دې تذکره کښې مونږ د فوزيه انجم خټک په لور وګورو نو ددوي په شخصيت او فن هم دوي ډير زړه راښکونکے بحث کړے دے. او په صحيح معنو کښې د لوستونکي په علم اور پوهه کښې د اضافې سبب ګرځي. دغه

رنګ په دې تذکره کښې په ډاکټر سلمي شاهين علمي، ادبي او فني بحث نه انکار نه شي کيدے۔ دوي چې په کوم انداز د ډاکټر سلمي شاهين د شخصيت او فن احاطه په دې تذکره کښې کړې ده يقيناً چې دا صرف او صرف د دوي خاصا کيدے شي۔ ځکه چې د سلمي شاهين متعلق عمومي او خصوصي معلومات ئې په داسې انداز په خپله تذکره کښې ځائے کړي دي چې نور تذکره نګاران ورته ګوته په غاښ دي۔ افضل رضا صېب د خپلې خبرې مضبوطولو د پاره ددې ښاغلو اقتباسات هم رانقل کړې دي يعني پروفيسر محمد نواز طائر ، اخون زاده مسافر، عبدالروف شاه، پروفيسر شاه جهان، لطيف پريشان او ډاکټر سيد چراغ حسين شاه۔ يقيناً دا داسې ادبي خلقو اقتباسات په تذکره کښې رانقل کول د پروفيسر افضل رضا صېب د تذکرې په اعلي او معياري فن دلالت کوي۔ که ددې تذکرې پنځمې شمې ته پام وکړو نو حقيقت دا دے چې دوي پنځمه شمعې په تذکره کښې په داسې اسلوب ځائے کړي ده چې لوستونکې به ارو مرو دا محسوسوي چې په صحيح معنو کښې سيده حسينه ګل تنها زمونږ د پښتو ژبې او ادب هغه شمع ده چې خپله سوزي او بل له رڼا ورکوي (۹)۔

دا قسمه نقشه دا قسمه تصوير د ليک په شکل کښې وړاندې کول څه اسان کار نه دے خو دا ګران کار افضل رضا صېب ځان ته د تذکره نګارۍ په فن عبور لرلو په وجه ډېر اسان کړے دے۔ يقيناً چې راتلونکے نسل به د دوي په دې ليک فخر او وياړ کوي۔

۳) د پښتو غزل:

د پښتو غزل "اول ټوک" نومې تذکره د دوي په هغه تذکرو کښې شامل ده چې په حقيقت ورته مونږه د پښتو ژبې او ادب کښې ګټوره اضافه وئيلے شو۔ په دې ليک کښې دوي ډېر په ښکلي او فني انداز سره په غزل او د غزل په شاعرانو باندې بحث کړے دے چې د تعريف وړ دے۔ يعني په غزل فني او تکنيکي بحث نه وروستو په دې تذکره کښې د غزل دَ دورونو او دغه رنګ د

مختلف سبکونو په بنیاد ترتیب ورکړے دے چې یو طرف ته لوستونکي په علم او اګاهۍ کښې اضافه کوي نو بل طرف ته د لوستونکو په دلچسپۍ کښې هم اضافه کوي۔ ځکه چې دوي دَ ۱۳۹ هجري نه تر ۷۵۰ هجري پورې دغهرنګ د ۸ هجري نه تر ۱۰هجري پورې او دغه رنګ د ۱۱ هجري نه تر ۱۲ هجري پورې ډیر په تفصیل سره بحث شوے دے په دې پیریډ کښې زمونږ د پښتو ادب ټول دورونه راګیردي۔ ددې دورونو احاطه د غزل په حواله کول زما په خیال دَ ډیر زړه چاودون او کړاو کار دے چې اسان نه دے۔

دوي هر دور له اهمیت ورکړے دے او د هر دور شاعران ئې د غزل په حواله د لوستونکو مخې ته د اعلي نمونو سره راوستي دي۔ دې سره سره دوي د پښتو ادب د شاعرانو په مختلف سبکونو هم بحث کړے دے۔ او بیا دا خبره ئې هم په ښه شان سره واضح کړے ده چې کوم شاعران د کوم سبک سره تړون یا تعلق لري۔ یعني د خوشحال بابا سبک او ددې پیروي کوونکي، د عبدالرحمان بابا سبک او ددې سبک پیروي کونکي او دغه رنګ د عبدالحمید سبک او ددې سبک پیروي کوونکي۔ دا هر څه دَ غزل په حواله بیان شوي دي۔ ځکه خو ډاکټر پروفیسر پریشان خټک صېب وئیلي دي چې افضل رضا صېب د خپلې برخې لیک سره سره د نورو ادیبانو د برخې لیک هم کوي۔ (۱۱)

په دې تذکره کښې دوي تقریباً ۲۰۰ پورې شاعران د غزل په حواله شامل کړي دي یقیناً چې د قدر وړکار دے۔

۴۔ کاروان د آزادۍ:

کاروان د آزادۍ د پروفیسر افضل رضا صېب یوه بله زړه پورې او د فن او تکنیک یوي اعلي نمونه ده۔ ګرانو لوستونکو د پروفیسر صېب د ګڼو تذکرو نه په مکمل ډول دا خبره واضحه ده چې دوي ډېر په ښه شان سره د تذکرې په فن عبور لرلو که د دوي په تذکرو نظر واچولے شي نو د دوي په تذکرو کښې په مکمل ډول صف بندي په نظر راځي۔ او دا د هغه تذکره نګار خوبي او

کمال دے د چا چې علمي او معلوماتي بصيرت ډېر وي۔ کاروان د آزادۍ تذکره د پروفيسر افضل رضا هم ددي سلسلې يوه کړۍ ده۔

دا تذکره دوي په نهو (۹) بابونو کښې ويشلې ده چې په مکمل ډول د تحريکِ آزادۍ د غړو احاطه کوي۔ په اول باب کښې دوي "د پيښور علاقه د غير مسلمو په ولقه کښې"عنوان تر لاندې ډير معلوماتي او زړه پورې بحث کوي۔او د سيد احمد شهيد او د هغه تحريک او د جهادي تحريکونو احاطه په ډېر ښکلي انداز سره کوي۔(۱۲)څوک هم چې د برصغير پاک و هند په تحريکونو څېړنه کوي بايد چې د پروفيسر افضل رضا صېب دا تذکره د څېړنې دوران کښې له نظره ونه غورزوي۔ ځکه چې دغه تذکره يا دغه د تاريخ څېړنه به ددي تذکري نه بغير نيمګړي وي۔

۵۔ ځلور امامان

ځلور امامان دَ پروفېسر صېب يوه مذهبي تذکره ده، چې ددې تذکرې شروع دي دَ بسم الله يا ځائے دَ "۷۸۶" نه کړې ده چې موجوده وخت کښې علما دَ بسم الله په ځائے ۷۸۶ ليکل مناسب اوښه نهٔ ګڼي۔

د دې تذکرې بنيادي متن په ځلورو امامانو مشتمل دے۔چې پروفېسر صېب د دې ځلور امامانو په حواله ډېر زړه پورې تاريخي او عملي بحث کړے دے۔په تذکره باندې مولانا سميع الحق صېب چې کومه سريزه ليکلې ده يقيناً چې ددې تذکرې علمي او فني اړخونه ئې زياتر واضح کړي دي او لوستونکو د پاره ئې تذکره اسانه کړې ده زما په خيال چې پروفېسر صېب د دې تذکرې ليکلو وجه او سبب دَ رحمان بابا دا شعر وي:

دا ځلور واړه مذهبه سره يو دي
ما او تا پکښې پيدا کړو اختلاف

دَ پروفېسر صېب د دې تذکرې که مونږ هر څومره تعريف وکړو زمه په خيال چې هغه به کم وي ځکه که پښتانهٔ هر څو دَ ځلورو امامانو تش نومونو نه

خبر دي خو د دوي علمي کارنامو او تاریخي واقعاتو نه، نا خبر دي۔ دوي ډېر علمي انداز سره دَ امام اعظمؒ، امام مالکؒ، امام شافعيؒ او امام حنبلؒ صېب علمي او تاریخي دنیا باندې رڼا اچولې ده۔ ددې تذکرې لوستونکو باندې دَ ځلورو امامانو په حواله لوستونکي ته په مکمل ډول د تکمیل احساس کیږي او زما په خیال چې دا د تذکره لیکونکي کامیابي ده۔ پروفېسر صېب د عام لوستونکو د پاره په دې تذکره کښې د ځلورو واړه فقو کومه موازانه او مقائیسه وړاندې کړې ده یقیناً چې د تعریف وړکار ئې کړے دے او عام خلقو ته به ترې ډېره فائده اورسیږي۔ چې د امام صېب د اخلاقو په لړ کښې تقویٰ، اخلاص، توکل، صبر، شکر، استغنا و علم جلال او استقامت وغیره ځني داسې خوبۍ دي چې د دوي ذات پکښې مثالي حیثیت لري۔ او هم دغه وجه وه چې د هرچا په نظر کښې د هغوي شان ډېر ستر وو۔ د علم و عمل د ښکلي پیکر ځو اړخه لوستونکو ته وړاندې شوي دي۔ چې زما په خیال د شاه ځلمو د پاره خصوصاً او عام پښتنو د پاره عموماً د سنګِ میل حیثیت لري۔ (۱۳)

۶۔ اردو کے قدیم پشتون شعرا

اردو کے قدیم پشتون شعرا د پروفیسر افضل رضا صېب یوه بله علمي او فني تذکره ده۔ زما په خیال چې تر کومې پښتو ژبه موجود وي او په دې زمکه پښتون آباد وي نو د پروفیسر افضل رضا صېب په دې تذکره به پښتانه د ناز او ویاړ شمله همیشه کړه ترې ځکه چې دوي د پښتنو هغه صلاحیتونه په ګوته کړي دي چې تر اوسه په خړو لړو او تورو پردو کښې پټ پراته وو۔ ددې تذکرې نه وروستو ځوک هم دا نه شي وئیلے چې د اردو ژبې په تشکیل کښې د پښتو کردار نه وو۔ خو حقیقت دا دے چې په دې ژبه کښې پښتنو لیکوالو او شاعرانو خپل ډیر اهم رول لوبولے دے۔ مرحوم ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب لیکي:

*بر صغیر پاک و ہند کے مضبوط ثقافت میں اردو کو جو مقام حاصل ہے اور جن نئے پرانے علوم کو عوام تک پہنچانے اُن کی تعلیم و تعلم کا ذریعہ بنانے میں ان تمام قومیتوں کا کردار ایک مشترکہ تحریک کی صورت میں قابل ستائش ہے۔ لیکن اس ثقافت کو جو کچھ پشتونوں نے دیا ہے اس کا مقابلہ شاید ہی کوئی قومیت کر سکے۔ بر صغیر کی تہذیب و ثقافت کے کسی بھی پہلو میں سر فہرست نام پشتونوں ہی کے نظر آئیں گے۔ یہ پشتون جو صدیوں سے ایک تاریخی عمل میں یہاں کے پہاڑوں سے تلاشِ معاش یا اپنے جوہر و استعداد کو زمانے کے لیے سر زمین ہند میں داخل ہوتے رہے ہیں تو تاریخ کے اوراق ان کے سپاہیانہ کمالات کے علاوہ ان کے فنی صلاحیتوں کے بھی گواہی دیں گے۔(۱۴)*

حقیقت هم دادے چې په دې تذکره کښې پروفېسر افضل رضا صېب په کوم انداز او عرق ریزۍ سره "اردو زبان اور افغان" ترلاندې لیک کړے دے او په کومه طریقه دوي ددې متعلق دلیلونه او حوالې وړاندې کړې دي.زما په خیال ددې حوالو او دلیلونو رَد کول څه اسان کار نه دے.نو بیا دا منل ضروري امر جوړیږي چې په اردو ژبه کښې د پښتنو ډېره کافي حصه ده او پروفېسر افضل رضا صېب دا تذکره په خپل ځائے صحیح لیکلے ده.دا تذکره پروفېسر صېب په پنځلس (۱۵) بابونو کښې ویشلے ده.په دې تذکره کښې چې د مختلو ژبو د ټکو تورو کومه موازانه وړاندې شوې ده یقیناً چې د لوستونکي په علم او دلچسپۍ کښې د اضافې سبب ګرځي(۱۵) .په دې بنیاد ددې لیک چې هر څومره ستائنه وشي هغه به کمه وي.ددې نه علاوه په دې لیک کښې داسې داسې شخصیت زمونږ مخې ته راغلل چې دَ چه پرې د پښتنو ګمان هم نه وو چې آیا دا هم پښتانه کیدے شي ځکه چې د هغې نومونو سره داسې سابقې او لاحقې موجود دي چې ددي نه بالکل اندازه نه لګي چې دا شخصیات هم پښتانه دي.د مثال په طور نجمي رامپوري، ناصر رامپوري، مظلوم رامپوري، شائق رامپوري، منصور رامپوري، نجف رامپوري، شمیم نجب آبادي ، قاصر رامپوري، حباب رامپوري، رضا بریلوي وغیره وغیره.دا خو د

ښاغلي امتیاز علي عرشي، حاجي خیل ګدون افغان او پروفېسر افضل رضا صېب د تحقیق ثمرات دي چې دا قسمه شخصیات ئې زمونږ مخې ته راوستل او دا خبره ئې په حوالو او دلیلونو سره ثابته کړه چې دا پښتانه دي۔ مونږ پروفیسر افضل رضا صېب له په دې تذکره داد ورکوو اوپه حقیقت دَ داد قابل هستي ده۔ دې تذکره کښې دوي د متعلقه شاعرانو مختصر سوانح عمري سره سره د اردودَ کلام ښکلي او اعلي نمونې هم وړاندې کړي دي۔ زما په خیال د تذکره نګارۍ د فن یوه اعلي او بهترین نمونه ده۔ د دې تذکرو لوستونه وروستو لوستونکے ددې خبرې قائل شي چې په حقیقت کښې پروفېسر افضل رضا صېب د تذکرې لیکلو په فن پوهه دے او د تذکرې په مختلفو قسمونو باندې په مکمل ډول عبور لري۔

۷۔ د پښتو ادبي تذکرې او تاریخونه

د پښتو ادبي تذکرې او تاریخونه د پروفیسر افضل رضا صېب د پي ایچ ډي مقاله ده چې د چاپ مرحلې نه، نه ده تیره شوې۔ راقم حروف ئې یوه فوټو کاپي پیدا کړے ده چې د تذکرې متعلق دوي کوم انداز سره بحث په دې مقاله کښې کړے دے یقیناً چې د لوستو سره تعلق لري۔ او دا مقاله خالص د تذکرې په فن او تکنیک لیکلے شوې ده او ددې نه دا اندازه په ښه شان سره لګي چې د پروفیسر افضل رضا د تذکرې په فن او تکنیک مکمل عبور حاصل وو او دې مقالې نه د پروفیسر افضل رضا صېب د تذکرې د فن او تکنیک نقشه په مکمل ډول واضحه ده۔

دا مقاله په دوه برخو کښې تقسیم ده۔ اوله برخه د پښتو ادبي تذکرې او دوئمه د پښتو ادبې تاریخونه د ادبي تذکرو د مختلفو قسمونو له مخه د اولسي برخي دیارلس بابه دي او د دویمي شپږ بانونه دي د اولنۍ برحې په یوولسو بابونو کښې د پښتو د ۱۳۲ چاپو ادبي تذکرو تفصیل ذکر دے۔ دا هغه ادبي تذکري دي چې د اشاعت ابتدائي په ۱۹۴۱ کښې د پښتانه شعرا، لومړني

ټوک نه شوي ده۔ او تر اګست ۲۰۰۰ پورې ليکلي شوي او شائع شوي دي۔ دَ دولسم او ديارلسم باب انفرادي او متفرقو ادبي تذکرو شمير نه علاوه دے۔

دغه شان په دويمه برخه کښې د پښتو دَ ۶۲ ادبي تاريخونو تفصيلات درج چې۔ چې ابتدا ئې د پښتو د اولنۍ ادبي تذکرې چې مولف ئې عبدالغني صېب دے د پښتو ادبياتو تاريخ لومړني ټوک نه شوي ده۔

شپږم باب کښې شامل نورو ژبو کښې ليکلي شوي د پښتو ادبياتو تاريخونه هم ددې نه علاوه دي (۱۶)۔

په دې مقاله کښې چې څومره تذکرې شامل شوي دي د پروفيسر افضل رضا صېب دعویٰ ده چې دا ټولې دوي لوستي دي او د هرې تذکرې فني او تکنيکي اړخونه ئې کتلي دي او هغه ئې د لوستونکو دپاره رابرڅيره کړي دي يقيناً چې پښتانه به د افضل رضا صېب په دې قسمه کار فخر اوياړ کوي۔

راقم حروف هم د خپلې پي ايچ ډي مقالې چې عنوان دے "د افضل رضا ژوند او فن" کښې د دوي په تذکرو فني او تکنيکي بحث کړے دے۔ حقيقت دا دے چې د دوي تذکرې ډېرې معيارې دي او په هر لحاظ په وزن پوره دي۔ بعضې خلق د تذکرې په فن دا تنقيد کوي چې دا قسمه ليکونه د موجوده وخت د تحقيق لوازمات نه پوره کوي۔ دا حقيقت دے چې تذکره نګارۍ د جديد دور لوازمات نه پوري کوي خو بيا هم مونږه د تذکرې د اهميت او افاديت نه انکار نه شو کوے ځکه چې دا قسمه ليکونه زمونږ په ادب کښې يو قسمه تسلسل قائم ساتي۔ ددې مثال داسې کيدے شي لکه يو زنځير نه منځ تر منځه کړې غايبې شي۔ په دغه انداز دا زنځير پاتے نه شو بالکل د زنځير ټوټې شوې۔ تذکره نګار د زنځير دغه ټوټې راغونډه وي او دوباره ترې يو زنځير جوړه وي چې د قدر وړکار دے۔ په دې باب کښې پروفېسر افضل رضا د هر چا نه وړاندے دے۔ مونږ ددې د تذکره نګارۍ په فن وياړ کوو او د قدر په نظر ورته ګورو۔ نوې نسل له پکار دي چې د پروفيسر افضل رضا صېب د

تذکرې دا فن د جمود ښکار له ورنه کړي او کوشش دې وکړي چې دا نور هم مخ په وړاندې بوځي.

# حوالې


۱۔ افضل رضا، "د پښتو ادبي تذکرې او تاريخونه"، پي ايچ ډي مقاله ناچاپ، مخونه۱۔۲۔
۲۔ هم دغه اثر، مخونه ۱۲۔ ۱۶۔
۳۔ د تذکرې د فن متعلق وګورئ: پښتانهٔ شعرا پنځه واړه ټوکه، پښتانهٔ ليکوال، هميش خليل، ددې نه علاوه ددې تذکرو متن لوستل هم ضروري دي۔
تذکرةالشعراء، سراج الدين سعيد، پېاوړي شاعران، صديق الله، ښتين اوسني ليکوال، عبدالروف بينوا، ځلنده ستوري، اخونزاده فرمان مسافر، د بنوں ادب تذکره مجبور سوراني، دافضل رضا د پي ايچ ډي ناچاپ مقاله، د پښتو ادبي تذکرې او تاريخونه، خصوصي طور باندې د تذکرې په اقسامو او فن بحث کوي۔
۴۔ پروفيسر نواز طائر، "سريزه" "پټ ستوري"، مؤلف افضل رضا، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴ مخ ۱۰۔
۵۔ پروفيسر افضل رضا، ، پټ ستوري، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴مخ ۱۱۔
۶۔ پروفيسر ډاکټر، راج ولي شاه خټک، "سريزه"، مشمله "پټ ستوري"، مولف افضل رضا، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴مخ ۱۲۔
۷۔ پروفيسر افضل رضا، "پنځه شمعې"، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۶، مخ ۸۰۔ ۸۱۔
۸۔ د ميرمن زيتون بانو په حواله د پروفيسر افضل رضا ماخذونه ځلنده ستوري، پښتو ادب کښې د ميرمنو برخه، پښتانه ليکوال۔
۹۔ وګورئ، پروفيسر افضل رضا، ۲۰۰۶، پنځه ستوري، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، مخونه ۵۲۳۔ ۶۳۱۔

۱۰۔ پروفیسر افضل رضا، "څه د پښتو غزل په حقله"، "د پښتو غزل" پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۷۸، مخونه ۱۶۱ ، ۱۷، ۱۸

۱۱۔ پروفیسر پریشان خټک، "پیژندګلو"، د پښتو غزل، مولف افضل رضا، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۷۸، مخ ۱۳۔

۱۲۔ وګورۍ: پروفیسر افضل رضا، "کاروان د آزادۍ"، یونیورسټي بُک ایجنسي، پیښور، ۱۹۹۶، مخونه ۱۰۔ ۳۷۔ د تذکرې په دې باب کښې دوي زیات تر شخصیات سرحد، پروفیسر محمد شفیع صابر، تذکره علما تاریخ سرحد، تاریخ سوات، ښاغلے سرنزیب نه هم استفاده کړې ده۔

۱۳۔ پروفېسر افضل رضا، څلور امامان، یونیورسټي بُک ایجنسي، پېښور، تاریخ نه لري، مخونه ۱۷۴، ۱۷۵

۱۴۔ پروفیسر، ډاکټر راج ولي شاه خټک، "دیباچه"، "اردو کے قدیم پشتون شعرا" مولف پروفیسر اضل رضا، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۸، مخ ۸۔

۱۵۔ وګورۍ: پروفیسر افضل رضا، ۱۹۹۸، "اردو کے قدیم پشتون شعرا"، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، مخ ۲۷، ۲۸، ۲۹۔

۱۶۔ پروفیسر افضل رضا "سریزه"، ,,د پښتو ادبي تذکرې او تاریخونه،، د پي ایچ ډي مقاله (ناچاپ)۔